# د اخونزاده احسان باچاخوږلن سياسي فکرونظر

## Political view & thoughts of Ihsan Bacha Khoglan

Rizwan ullah shamal*
Dr Qadar wahid (samandar yousafzai)**

ABSTRACT:

Ihsan bacha Khoglan is one of the thinker poet of current and near fast Pashto poetic history. We can find multi dimension characteristics in his literally work, one of them is his political approach and point of view. In these papers we have fully try to analysis his political thoughts regarding local, national and international level. Usually he used symbolic language and metaphoric manner to avoid himself from propagation and make his views universal as well.

**Key Words:** Akhwandzada Ihsan,Pashto Poetic <history,Politics.

انسان د خپل ژوند په اوږدو کښې د مختلفو دورونو نه راتېر شوے تر دې نوې مدني دورې پورې رارسيدلے دے ـ د خپل دې اوږد ژوند په دې دومره اوږد سفر کښې انسان داسې وختونه هم تېر کړي چې په ښکارځايونو ،اوبو او د خپلو ځاروو د څر د پاره په څرګاهونو او وښو پسې لے په لے کډه په سر ګرځېدلے ـ دغه ستړي ژوند چې ورته کله زړۀ وهلے نو اخر ئې يوې خوا ته اړولې ده او خپله کور کېږدۍ ئې په دې خاطر قائمه کړې چې اوس په يوه خاص منطقه کښې خپل ستړي ژوند ته دوام ورکړم ـ يو د بل نه رنګ اخستے او نورو ورونړو عزيزانو ئې هم ورسره خوا ته اړولې ـ وخت تيرېدۀ ،خلق ډېرېدل ،ضروريات سېوا کېدل،د معاش وسيلې کمېدې ، خلقو د رزق په تکل يو خوا بل خوا تلل ،ټولنه مختلف النسل کېده ، او ابادۍ د کلي شکل اخستو ،کلو د قصبو او قصبو د لويو منطقو ـ ټولنې د خپلې فراخېدو او لوئېدو په وجه نوي نوي ټولنيزې مسئلې راپورته کولې جنګ جنګړې کېدلې او ټولنه د انتشار سره مخ کېده ـ

* PhD scholar Department of Pashto University of malakand
** Assistant professor Department of Pashto Uniersity of malakand

د دنيا د ټولوخلقو د تهذيبي او تمدني ارتقا تاريخ کم و بېش ټول هم داسې دے ـ د دغه ارتقا او بقا په بهير کښې د ټولنې د مسئلو د پاره به مشرانو څۀ روغې جوړې هم کولې او د جرګې،مرکې پنچايت او کونسل غندې د مشرانو يو قسم جرګې به هم جوړې شوي وې ـ د بيروني يرغلګرو خلاف به ځائي خلقو په يو لښکر کښې په اتفاق جنګېدلي هم وو او دغه ارتقا به تر دې رارسيدلې وي چې خلق د خپلې ټولنې د مسئلو او مشرۍ کولو ته متاز شوي هم وو ـ او بيا به چا جرګې ،د سماج خلقو يا چا بااثره او زورور تر مشرۍ هم راغلے وۀ ـ په دې دومره زمانه کښې به د خلقو شعور او پوهه کښې هم بلها ترقي شوې وه او ټولنه به تر دې رارسېدلې وه چې خلقو د خپلو اجتماعي مسئلو د پاره په خپله خوښه واک اختيار يا حاصل کړي يا ئې چا قابل اعتبار ته وسپاري نودغه سماجي شعور چې د ټولنې،قبيلې يا ملک د مشرۍ ،واکمنۍ او حکومت د پاره څوک نامزد يا منتخب کړي او په دغه مقام به هم د مفاداتو په سر خلقو کښې اختلافات دوۀ رائي او د واک حاصلولو رجحان پېدا شوے وۀ دغه ټول عمل او پراسس چې خلقو د ټولنې ،سماج او ملک د مشرۍ د پاره واک اختيار حاصلوي سياست بللے شي ـد دې سر سري تمهيدي توضيح نه پس راځئ ګورو چې پوهان سياست څۀ ګڼي ؟او د دې تعريف،تشريح او توضيح څنګه کوي؟ په دې حقله مظهر الحق ليکي

> "The term "politics" is derived from the word "polis" of the ancient Greek language. The word polis means a city-state. It was the form of the state which the ancient Greek had in their country. All the activities and affairs of the city-state were called by them as politics." [1]

"ژباړه : د "پاليټکس "اصطلاح د پخواني يونانۍ ژبې د لفظ" پوليس "نه اخستے شوے دے د پوليس معنی ښاري رياست دے ـ دا په پخواني يونان کښې د رياست يو قسم وۀ ـد دې امورو او هلو ځلو ته به "پاليټکس" وئيلے شۀ.

مختصر وئيلے شو چې د رياست د حکومت علم ته سياست وئيلے شي يا د يو ټولي هغه جوړکړي اصول او پاليسي چې د هغې په مددواک اختيار حاصلولے شي سياست بللے شي ـ

ادب ته ميتيهو ارنلډ د ژوند تفسير وائي اوس ژوند بلها شعبې او مدونه لري په دې خاطر ادب کښې د داخل او خارج ټول موضوعات ځاے مومي ـ دسماج معاشي ، اقتصادي ، مذهبي، نفسياتي ،جمالياتي ستونزې ادراکات او محرکات په ادب کښې

ځاے نیسي ۔ اديب او ليکوال د سماج د دغه عناصرو او عواملو نه ځان په تنهائۍ isolation کښې نۀ شي ساتلے او څومره چې د يو ليکوال قوت ادراک او سماجي شعور کامل پوره او پوخ وي دومره د دغه سماجي ستونزو څرک د ليکوال په تخليق کښې ځاے مومي ۔ او د کوم ليکوال د تخليق نظريه او رجحان چې د ژوند د مقاصدو سره تړلے وي دومره به دغه عواملو ته د هغه پام ډېر وي ۔

زمونږ د موضوع شاعر احسان باچا خوړلن په هغه ليکوالو کښې دے چې د سماج سره د خپلې ادبي نظريې په بنياد کلک تړلے دے هغه ټول عوامل چې په روزمره ژوند کښې پېښېږي د هغې سره سره د دغه سماج د تهذيبي ارتقا امين دے او د روښانه مستقبل پامته دار دے په دې وجه د هغه په تخليقاتو کښې د نورو موضوعاتو او رجحاناتو سره د سياسي فکر او سوچ موضوعات خورا ډېر شتون لري ۔ د خوړلن بابا په نظمياتو کښې د منطقې او چاپېره جغرافيې د سياست په اړه يو کوټلے سياسي فکر موجود دے د هغې سره سره د بين الاقوام په سياست ئې هم په دې خاطر نظر او مشاهده ده چې د ګلوبلائزېشن په سوب نړيوال سياست سيمه ايز حالات او سياست نېغ په نېغه متاثره کوي ۔دغسې د نائن اليون پېښه چې په خپل ځان کښې د دنيا د سماجونو مذهبونو او سياسياتو په حواله کوم بدلون لري هغه د چا نه پټ پنا نۀ دے د خوړلن بابا ژوره مشاهده د دغه عواملو ادراک هم لري ۔ د کور کلي نه راواخله تر دغه عالمي سياست پورې د خوړلن بابا په تخليقاتو کښې دغه عوامل په نظر راځي ۔ خو ښۀ به دا وي چې د کور کلي د سياسي فکرونظر نه بې تر قومي او عالمي سياسي نقطه نظر پورې بتدريج جاج واخلو۔

په رسمي توګه خوړلن بابا سيمه ايز سياست په هغه عاميانه اصطلاح کښې کارولے چې فرېب ،مکر،چل او دهوکه ګڼلے کېږي او دغه عاميانه اصطلاح په پسمانده ملکونو کښې مستعمل هم ځکه ده چې سياست د رياست د واک د حاصلولو او د نظام رياست د چلولو علم او هنر ته وائي خو که په غور وکتے شي نو د پسمانده وطنونو سياسي خلق نۀ دغه هنر لري او نۀ پوهه ،په دې وجه په متبادل صورت کښې سياست دانان دهوکه،فرېب ،مکراو چلونه کوي چې سيمه ايز خلق بيا سياست هم دغه چل او فرېب ګڼي ۔ په سياست د څۀ خاص طبقې قبضه ،لوټه کرېسي ، د سياسي خلقو لوېې لوېې د دروغو وعدې،د منتخب کېدو نه پس د خلقود مسئلونظر انداز کول،د مذهبي سياست مدارو د

اسلام په نوم خلق ګمراه کول چې مدعا ئې کرسئ وي او يادوي اسلام،د سياسي خلقو سياسي فاتحې ، د سياستدانانو دورنګي ،د انتخاباتو په وخت کښې د سياستدانانو جي حضوري ـ دا هغه موضوعات دي چې د سيمه ايز او کليوال سياست په اړه يې خوړلن بابا په مختلفو نظمونو کښې ذکر کړے دے لکه يو نظم "ممبران" کښې ئې د سياسي خلقو د انتخاباتو د پاره د تيارئ منظر کشي په علامتي او اشارا تي انداز کښې کړې ـ په علامتونو کښې استعمال شوي ټول لفطيات او اصطلاحات په خپل ځان کښې د تفهيم يو وېړ جهان لري چې د موضوعي ادراک او فکر نه علاوه د خوړلن بابا د ژوند د مشاهدې او د فن د قاعدې د امتزاج دليل دے ـد نظم څۀ حصه ولولئ ـ ـ نظم ، ممبران

د ژمـــې زور دے ګبـــين ډېـــر دے خـــو مچـــان پـــټ شـــوي
کـــه چـــرت خپـــر وو بيـــا بـــه بېرتـــه پـــه ســـپرلي راووځـــي

ځـادر بـه خـور کـړي ،غوښـت بـه وخـري ،مېـدان بـه جـوړ کـړي
دلتـــــه بـــــه جنـــــګ لـــــه د خلتـــــو نـــــه بګيلـــــي راووځـــــي

پسـې بـه قـت شـي بيـا بـه شـمار شـي غريبـان د سـيمي
زمـــــونږ د خـــــاورې د غټـــــانو اســـــمبلي راووځـــــي

زمـــا د قـــام نـــبض ئـــې ډېـــر پـــه چـــالاکۍ نيـــولے
چـــې د اســـلام پـــه نـــوم د ســـېلمه پـــه شـــپېلي راووځـــي[۲]

هم دغه نظم کښې د وطن د واکدارانو د سياسي هنرکاريواو علم وهنر او سياسي استعداد د نشتوالي ذکر کړے چې دوې کښې دومره توان او صلاحيت نشته چې قامي معيشت اواقتصاد له وده ورکړي دوې د بېن الاقوامي مالياتي ادارو نه قرضې اخلي او د امور سلطنت په چل نۀ پوهېږي ـخپل نسلونه يې ددغه مالياتي ادارو په قرضو کښې ډوب کړي دي او لا لګيا دي نور ئې هم ډوبوي ـ لکه مخکښې وائي

زنـــدئ د قـــرض پـــه مـــرئ کښـــې لکـــه رګ لرمـــه
بـاور مـې نـۀ شـي کـه د څـټ نـه مـې څيلـي راووځـي

کچکول ئې مونږ له د پېرزو نه فولادي جوړ کړے
ماتېدے نۀ شي په ټوپونو که سوالي راووځي [۳]

یو نظم "یو هلک د وطن مور ته " کښې هم یو بند کښې د انتخاباتو د پاره د سیاسي خلقو د دغه کردار په حقله ذکر کړے :

ځینې کسان په مخه پس د څو کلونو راځي
دادا مې وائي چې دوې سوال له د ووټونو راځي

د خلې په دروغو د بانډې نه مې جنت جوړوي
بېرته غائب شي دوې چې کله حکومت جوړوي

هسې په سټیج باندې وهي بروي ولې ګرځي؟
چې خواري کښې دادا شلیدلې ګروي ولې ګرځي؟ [۴]

دوه نظمونه چې اقتدار او لیډر/ممبر عنوان لري په دغه نظمونو کښې ئې د ممبرانو د سیاسي چلونو سره سره د هغوې د خپلو اثاثو د زیاتولو په حقله نظر وړاندې کړے لیډر نظم کښې هغه ته مخاطب دے چې خوارانو خلقو په تا اعتماد وکړو ته ئې منتخب کړې او عزت ئې درکړو خو ته د کامیابېدو سره د تکبر او هو هوا ښکار شوې ـ داسې وخت وۀ سحر ماښام به د خلقو کوڅې له تلې د مرګ نه مخکښې به فاتحو ته حاظر وې خونن چې ممبر شوې نو غریبان خلق چې دې حجرې ته د څۀ کار په غرض درشي نو ته بې پېژنې هم نۀ ،رویه دې هم متکبرانه وي ـ غرض دا چې دې نظم کښې بې د ماقبل و مابعد انتخاب د یو ممبر د کردار نقشه راښکلې ـ یو بند ترې ولولئ:

سپورو سرتورو ستا په سر باندې ټوپۍ کېښوده
تۀ چې نشه شوې پښې دې پرېښودې په سر روان شوې

هغه دې هېر شو چې ماښام زمونږ کوڅو ته راتلې
په غټه خله به د ټګۍ دروغو وعدو ته راتلې

لاس پــه سـینه پــه عــاجزۍ بــه څــۀ غوښــتو تــه راتلــې
د ځنکـــدن نـــه بـــه لا مخکښــــې فـــاتحو تـــه راتلـــې

اوس دې زۀ نـۀ ویـنم چـې تـۀ پـه کـوم ګـودر روان شـوې
تـــۀ چـــې نشـــه شـــوې - - - - - [۵]

یو بل نظم کښې ئې هم چې د سیاسي لیډر عنوان لري کښې بې هم د سیاسي خلقو د دغه مکروه کردار تذکره کړې خو دغه نظم کښې ئې د مغرب ډیموکریسي او سیاست ستائیلے چې هلته اصل سیاست دے او که مونږ وګورو نو مغربي ملکونه په سیاسي لحاظ د ډېرو خوبیو شته مني لري او د هغوې د اقتصادي ترقۍ راز هم سیاسي استحکام کښې دے ـ په روستو پاتې ملکونو Third world country کښې دسیاست انداز بلکل هم داسې دے په کوم انداز کښې چې خوږلن بابا د خپلې خاورې د سیاست نقشه راښکلې ده او هم دا سیاسي عمل دے چې استحکام ئې ونۀ موند او مونږ ئې اجتماعي طور د زوال سره مخ کړې یو ـ خوږلن بابا په دغه اساس د مغربي طرز سیاست ستائیلے او دا وائي چې دلته صرف د مغربي طرز سیاست پېښې کېږي ـ د خوږلن باب په نظمیاتو کښې دا واحد نظم دے چې د هئیت له رویه مستزاد دے،ولولئ:

هـر سـړے پـه دې بانـدې پـوهېږي چـې دا څـۀ کېـږي
اصـل پـه مغـرب کښـې خـو پېښـې پـه نمـر خاتـۀ کېـږي

تشـــه تجزیـــه ده چـــې دا بـــد کېـــږي دا ښـــۀ کېـــږي
یـو کلـیم پکـار دے چـې مـتې ونیسـي بـد نـۀ کېـږي

نـو کلـه بـه ډوبېـږي د اسـمان پـه کنـارو، دا افـق
په ستیج باندې چغېږي مېدان ګرم په نارو، غواړو حق[۶]

خوږلن بابا په سیاست کښې د مذهبي کارډ یعني د مذهب په بنیادونو سیاست باندې تنقید کوي او وائي چې باید مذهبي خلق د مذهب د تعلیماتو خپله اهمه فریضه تر سره کوي او دا دې د سیاست بنیاد نۀ ګرځوي ـ یو خو دا یو قسم منافرت دے بل عالمان چې د نبي وارثان

دي هغوې په سياست کښې د خپل علم نه اوځي او دنيا داري پکښې راشي هغه د دې ادراک هم لري چې د مذهبي سياست نه د رياست او نۀ د مذهب څۀ په ښۀ راځي بلکې هم دغه مذهبي سياست پال مذهب د خلقو د نفسياتو او روحاني اشتعال په سر بطور tool استعمالوي ـ يو نظم چې "د ملا او د ملک د ووټونو مقابله" عنوان لري کښې ئې دې اړخ ته اشاره موجود ده وائي:

دا پـوري مولـوي صـيب چـې يـو لـوے عـالم ديـن دے
د علـم شـور ئـې خـور دے پـه عوامـو ډيـر نـازبين دے

دا ئـې مشـغله وه شـاګردان بـه تـرې راتـاؤ وو تـل
داسـې ښـکاريدۀ چـې د دنيـا نـه بـې زړۀ شـين دے

ناڅاپـه څـۀ چـل وشـو مشـرۍ تـه ئـې زړۀ وشـو
يا چا کړه ورتـه لمسي چې سياست کښې خو ګټين دے

د رهبـرې دې قربـان شـم نصـيحت درتـه ځنـګ وکـړم
د هغــه چــا وارث ئــې د رحمــت د عــالمين دے

خـو دا خبـره ښـه شـوه چـې سـتا خپلـه تجربـه شـوه
چې اوس دې په حجره کښې انډيرے دے که قالين دے[۷]

دغه شان د يو نظم په شعر کښې دې خبرې ته هم اشاره کوي چې دې مذهبي سياسي خلقو د اولس د نفسياتو جاج اخستے چې پښتون اولس په مذهب مئين دے نو د پښتون اولس د مذهب سره د دغه مينې په اساس دغه مذهبي سياست پال د مذهب په نوم سياست کوي حال دا دے چې مذهبي خلق هم خپلو کښې يو نۀ دے او په پښتنو کښې هم دمذهبي سياسي ګوندونو د کثرت نه پته لګي چې دا د سياسي مفاداتو جنګ دے ـ خوږلن بابا په "ممبران "نظم کښې په دې حقله وائي:

د اســـمانونو د ســـينې نـــه اســـويلي راووځـــي
د دې چمـــن نـــه چـــې د ســـتې کشـــمالي راووځـــي

زمـــا د قـــام نـــبض ئـــې ډېـــر پـــه چـــالاکۍ نيـــولے
چې د اسلام په نوم د سېلمه په شپېلي راووځي[۸]

الغرض د خوږلن بابا په چاپ او ناچاپ اثارو کښې د سيمه ايز سياست د منفي اړخونو يو بشپړ جاج موجود دے چې د خوږلن بابا د سياسي او سماجي ادراک سره سره د هغه د عميقې مشاهدې دلالت پخپله کوي۔

دې نظمونو کښې ئې د سياسي خلقو د دورنګۍ ،بې حسۍ،خود غرضۍ ،د اولس او سيمې د ترقۍ نام نهاده وعدې او دعوې په ګوته کړې۔ دې سره سره ئې په سياسي نظريه کښې د دې خبرې هم اظهار موجود دے چې خوږلن بابا په سياست کښې د مذهبي کارډ د استعمالولو په حق کښې نۀ دے او هغه عالمانو ته ډېر احترام لري د نبي وارثان ئې ګڼي خو هغوې چې کله سياست ته راشي نو دنيا دارۍ ته راولوېږي ۔لالچ،دروغ،زرپرستي پکښې راشي او هغه احترام وبائيلي کوم چې په ټولنه کښې لري بل دا مؤقف هم لري چې سياست دامور سلطنت د پاره يو پوهه ده او بغېر د مذهب کارډ د استعمالولو نه هم د خپل وطن د نظام حکومت د پاره سياست کېږي ځکه نو د هغه په فکر چې په مذهبي بنيادونو سياست نۀ دے پکار ۔

د غه موضوع سره د تړلي نظمونو تفصيل په دې ډول دے

1. ممبران
2. سياسي ليډر
3. ممبر
4. د ملا او د ملک د ووټونو مقابله
5. اقتدار

هغه نظمونه دي چې د سياست د مکروه دهندې او څهرې غمازي پکښې شوي ۔دې نه علاوه ئې د وطن ،ترقي پسندۍ،شخصي نظمونو کښې سياسي نقطه نظر شتون لري چې هغه په خپلو متعلقه بابونو کښې پرې بحث کولے شي۔

د ملکي یا قومي سیاست په اړه د خوړلن بابا فکر بیا ډېر روښانه دے د هغه د قامي سیاست په اړه دنظمونو او افکارو نه رومبے د سپیناوے ضروري ګڼم چې خوړلن بابا بنیادي طور یو قام پال سیاسي کارکن وۀ او د خدائي خدمتګارو د پښتون پارلیماني سیاسي ګوندعوامي نېشنل پارټۍ باقاعده غړے وۀ تر دې چې د باچا خان نه راواخله تر ولي خان پورې ټول سیاسي مشران که دېر جندول ته چرته راغلي نو دمه ځاے به ئې د مایارو د اخونزادګانو حجره وه ۔

خوړلن بابا د کال نولس سوه اتۀ اتیایم نه د خدائي خدمتګار تحریک د کلک غړي شاعر او فلسفي احمد جان نشتر په صحبت کښې هم پاتې شوےچې د خپل زېږدیز پښتون پالۍ سره سره د خوړلن بابا په فکر او نظر کښې د خاورې،اولس،ژبې،پښتون تاریخ او تهذیب په حقله ادراک نور هم راسخ شوے ۔ دلته باید د دې خبرې سپیناوے هم وشي چې د سیاست د بنیادي زاندرې او خامیو په حقله خوړلن بابا کله سنجیده او کله طنزیه انداز کښې د خپلو تصوراتو بشپړ اظهار ضرور کړے البته د قامي سیاست په اړه ېې د نائن الیون نه د مخکښې دور په نظمونو کښې څۀ خاص اثار نشته او شاید دې دور کښې هم دپښتون سیاست په حواله ډېرې لوړې ژورې رامېنځ ته شوي خو خوړلن بابا په دغه حواله څۀ ډېر افکاراو واقعات نۀ دي نظم کړي ۔ د نائن الیون د بدې پېښې نه مخکښې د خوړلن بابا په کلام کښې د پښتون تهذیب د بقا ،پښتو ژبې د تعلیمي تائیداو د ژبې د بقا او ارتقا سره سره د پښتنو د پوهې او شعور په حقله یو خاص ساهو څرک البته لیدے شي ۔ په دې حقله ئې د لر او بر د شریکې وروری په حقله هم نظریه ښکاره ده ۔ راځئ چې په دغه حواله ېې د مختلفو نظمونو نه خواره واره سیاسي اود پښتنو تصوراتو جاج واخلو په دې چې مونږ واضحه کړه چۀ هغه یو قام پاله وه او د دغه قام پالۍ انګازې به ئې په سیاسي نظریه کښې هم ښکاري۔

ژبه او تاریخ:

که چرته جنګ وۀ په تاریخ کښې د پښتو په نامه
د خپلې سیمې د زلمو قیصې به زۀ ولیکم
پردي قامونه مې تاریخ لیکي په نورو ژبو
په خپله ژبه د پښتو قیصې به زۀ ولیکم

کـه د ساده اولـس پـه سـر مـې چـا سـودا کـړې وه
نـو د قـام خرڅـو پښـتنو قیصـې بـه زۀ ولـیکم

یا لکه دا چې۔

پښـــتو تـــه ولـــې انګریـــزي تبـــې کـــړم
کـــړې پـــه پښـــتو کښـــې پښـــتانۀ خبـــرې

د لر او بر تصور:

پـه ډانـګ نـۀ جدا کېږي لـر او بـر بهیـر مـې یـو دے
ګـــوزار د زورورو د اوبـــو نـــه راتمبېـــږي

د پښتون سیاست په حواله چې خوږلن بابا د خان عبدالغفار خان المعروف باچا خان بابا کومه مرثیه لیکلې ده هم دغه مرثیه کښې ئې د خپلې سیاسي نظرېې وضاحت په صراحت سره کړے دے دغه مرثیه کښې خوږلن بابا وائي چې د باچا خان سیاسي فلسفه د عدم تشدد او د مینې وۀ ۔او هم په دغه رویه او فلسفه ئې د هند وړه وچه د فیرنګیانو نه د ازادۍ د تحریک په صورت کښې ګټلې وه ۔ د پښتنو دغه سیاسي فلسفه د هر ظلم جبر خلاف ده او د هر جابر مخې ته لکه ډال ودریده دي ۔ د ظلم جبر ټول بوتان به په حکمت راغورځول او ماتول وي ۔ د قام د وحدت د پاره به زیار او کوشش کېږي او دغه سیاسي نظریه او باچا خانۍ فلسفه به د باچا خان د وفات نه پس هم د پښتون سیاست په نوم عملي وي ۔ په دغه مرثیه به د شخصي نظمونو په ضمني باب کښې په تفصیل سره بحث کولے چې دلته ترې د خپلې مدعا په خاطر دوۀ درې شعرانه رانقل کوو:

پـه جنـګ مئـین وو جنـګ ئـې کـړے خـو د مینـې پـه نـوم
جنـګ ئـې ګـټلے کـه مېـدان تـه بـې خنجـر تلـے دے
د وخـت نمـرود لـه خـو د وخـت د ابـراهیم بچـے وۀ
بوتـان ئـې مـات کـړه بتکـدې لـه پـه هنـر تلـے دے
توپـو مـات نـۀ کـړې شـومره کلـک وې د درمـې قلمـه
دښمن دې مـات کړو د دې خاوړې لاس پـه سـر تلـے دے
پـرون رښـتیا ده نـن رښـتیا ده سـبا هـم رښـتیا ده
نظـر هغـه دے کـه صـاحب د لـوے نظـر تلـے دے

هغـــه تحریـــک د ے هغـــه لاره ده هغـــه نظـــر د ے
پـــه کومـــه لاره چـــې زمـــونږه سرلښـــکر تلـــې د ے [۹]

په جدید دور کښې چې دنیا د یو نړیوال کلي global village نه د یو نړیوال کورکي global cottage صورت اختیاروي په داسې تناظر کښې د دنیا د ملکونو لانجې ،شخړې مسئلې یو بل نیغ په نیغه یا په واسطه متاثره کوي. په دې خاطر د بین الاقوام سیاست اود تعلقاتو هیئت او ماهیئت هم د نړۍ د ملکونو د استحکام او مسئلو باعث وي .او نړۍ چې څومره د اقتصاد زغل ته ننوځي نو ښکرور په ډغره وي او ترقي پذیر ملکونه متاثره شي او پسمانده ملکونه زرې زرې هېې هېې شي . د دغه قسم نړیوال سیاست په اړه ډاکټر مهتاب منظر د ګرېسن کرک په حواله لیکي:

"بین الاقوامی سیاست، قوت کی حصول کی جنگ ہے۔"[۱۰]

ژباړه: بېن الاقوامي سیاست د قوت د حصول جنګ د ے .

هم دغه کتاب د نورمن جے فیډلفورډ په حواله لیکي چې .

"بین الاقوامی سیاست، ریاستوں کی باہمی سیاست ہے جو طاقت کی بنیاد پر بدلتے ہوئے رشتوں کے دائرہ میں ہوتی ہے ۔"[۱۱]

ژباړه: بېن الاقوامي سیاست د ریاستونو د خپل مېنځ سیاست د ے چې د طاقت په بنیاد باندې د بدلیدونکو رشتو په دائره کښې کېږي.

د بېن الاقوامي یا نړیوال سیاست د دغه مفهوم تر څنګ د نائن الیون سانحه چې په کال دوۀ زره یو کښې په یولسم ستمبرسحر مهال د 8:46 نه تر 10:28راپېښه شوې وه د نړۍ په کچ ئې سیاسي سماجي ،اقتصادي ،انتظامي او جغرافیائي مسئلې رامېنځ ته کړې وې. دغه واقعه یا سانحه د امریکنیانو په خیال اسلام پاله انتهاپسندو تر سره کړې وه چې څلور الوتکې ئې اغوا کړې وې دوۀ الوتکو په ورلډ ټریډ سنټر حمله کړې وه .یوې الوتکې د واشنګټن نه بهر په فوجي مرکز پېنټاګان حمله کړې وه او یوه الوتکه په پینسلوانیا کښې په پټو کښې راغورځېدلې وه په دې سانحه کښې خواوشا درې زره کسان وژل شوي وو .د دې سانحې په حقله د هغه وخت امریکني صدر/ اولس مشر وینا ده .

We also must never forget the most vivid event of recent history.on September the 11th 2001America felt its vulnerability – even to threats that gather on the other side of the earth. We resolved then,and we are

resolved today,to confront every threat, from any source, that could bring sudden terror and suffering to America.- George W. Bush,2002[۱۲]

ژباړه:مونږ د موجوده تاريخ د ټولو نه واضحه واقعه چرې هم هېرول نۀ دي پکار. په يولسم ۲۰۰۱ کښې امريکې ځان بېوسه محسوس کړو. تر دې چې هغه خطرو ته هم کومې چې د نړۍ په بل اړخ کېدلې. مونږ مخکښې هم او نن هم کلک عزم لرو چې د هر طرف نه خطرو سره مقابله وکړو. کومې خطرې چې امريکې اچانکې ويره ترهه او نقصان ورکوي. (جارج بش)

د نائن اليون نه شل کاله وړاندې تر نائن اليون پورې د پښتون وطن پاکستان او افغانستان يوه تاريخي سياسي،مذهبي ،انتظامي او جغرافيائي منظر نامه ده په هغې د اجمالي ذکر نه بغېر به د نائن اليون د اثراتو په امريکائي او پښتون منطقي جواز پويه ګرانه وي.

په کال ۱۹۷۹ کښې چې کله د افغان اشتراکي حکومت د مرستې او مدد د پاره د سويت يونين فوځونه په کابل کښې داخل شو نو د هغې خلاف د مزاحمت د پاره د افغان جهاد په نوم يو تحريک شروع شو او جنګيالو ته د مجاهدينو نوم ورکړے شو. دغه مجاهدينو ته د امريکې ،سعودي عرب ،او پاکستان مرسته حاصله وه خو حکمت عملي د امريکې په دې بنياد وه چې د روس زور مات شي. په کال ۱۹۸۹ لس کاله جهګړه کښې د روس فوځ د افغانستان نه ووت خو دجنګيالو قوتونو خپل مېنځ کښې خانه جنګي شروع شوه او هم د دغه خانه جنګۍ په نتېجه کښې په کال ۱۹۹۴ کښې د طالبانو تحريک په وجود کښې راغے. طالبانو په کال ۱۹۹۲ کښې د افغانستان په بيشتره سيمو کښې قابض شو او د يو اسلامي شرعي قانون په نوم ئې په افغانستان کښې حکومت شروع کړو. هغه خلقو چې امريکې د روس خلاف جوړ کړي وو هغه خلقو هم افغانستان کښې پاتې وو. چې پکښې د القاعدې په نوم د تنظيم مشران لکه اسامه بن لادن او نور شامل وو د کال ۲۰۰۱ د نائن اليون ذمه دارې او پړه چې امريکې په القاعده ورواړوله نو امريکې د افغان طالب حکومت نه د دغه خلقو د حوالګۍ غوښتنه وکړه خو طالبانو د دې خبرې نه انکار وکړو او په ۷ اکتوبر ۲۰۰۱ کښې امريکې په افغانستان حمله وکړه.

هم دا هغه ټوله منظر نامه ده چې د امريکې د نائن اليون د بدې پېښې اثرات دافغانستان اوپاکستان په پښتنو نېغ په نېغه او په نوره منطقه بلواسطه پرېوتل.او د دې

سیمې په سیاسیاتو، سماجیاتو، دینیاتو، اقتصادیاتو، نفسیاتو او ادبیاتو ئې اثرات تر ننه پرېوځي او ښکاري ـ په خصوصي توګه په ادبي اصنافو خوا که د نظم دي که د نثر، مونږوینو چې د موضوعاتو په حواله د اسې اثر لري لکه څنګ چې د کربلا واقعه لري ـ د پښتو په ادبي تاریخ کښې د دې دور نظم و نثر د کرب، درد، بارودو، ژړا، غم او ساندو هغه نادره موضوعات او اصطلاحات لري چې د هغې نه د دې واقعاتو په تسلسل پوره تاریخ، پالیسي، سیاسي جوازونه او پښتون تناظر او منظر نامه جوړېږي

خوږلن بابا يو عميق نظر او دور انديش شخصيت وۀ په دې خاطر هغه دې ټولې منظر نامې ته د هرې زاويې نه کتلې دي او فهم ودانش نه ډک داسې نظمونه ئې د قلمه وتې چې دفني عظمت په لباده کښې ئې د سیاسي ادراک ثبوت ورکوي ـ د نائن اليون په دې ټوله سياسي منظر نامه د هغه نظمونه په شمېره کښې هم ډېر دي خو درې نظمونه ئې داسې دي چې د دې ټولې منظر نامې او سياسي صورتحال سره سره د دې د اثراتو بشپړ جاج دے ـ

(1) په افغانستان د حملې تياري (2) ساده پښتون(3)ترهګر (4)د زورورو تربېخ(5)باجوړ،(6) رضوان الله شمال ته يو خط (7) زورور او کمزورے،(8)د زورور غوائي،(9) د نړۍ بدمعاش، (10) دا څۀ کېږي، (11)د نړۍ باچا ته (12) مقام او بين الاقوام (13)حکمران ته،(14)زما خړو(15) خپل قلم ته(16) هئ ارمان دے (17) په ما بد لګي ملګرو(18)تاريخ(19) سوړه خيژي خو موګې نۀ خيژي (20) دا مې واؤره

هغه شاهکار نظمونه دي چې ددې ټولې سياسي منظر نامې نقشه هم ده او تماشه هم، جائزه هم ده او تجزيه هم ـ په دې نظمونو کښې خوږلن بابا دا مؤقف او سياسي تجزيه وړاندې کوي چې امريکې د دې جنګ د پاره د نائن اليون د خود ساخته واقعې جواز کتلے دے ـ امريکې غوښتل چې دې منطقي ته خپل فوځونه راولي او د چين، روس مخه ونيسي او د پاکستان ايټمي اثاثې د قبضې يا د سياسي دباؤ لاندې راشي ـ او د افغان په خاؤره د موجودو معدنو واک او ګټه واخلي ـ خوږلن بابا د امريکې د خليج د تيلو په لالچ کښې صدام ته هم دغسې جواز کتلے وۀ ـ خوږلن بابا دا هم وائي چې اوس چونکه امريکه ځان د دنيا سپر پاور ګڼي او د خپلې مشروتيې او مشرۍ برېت تاوهې د هغې وجه داد ه چې په دې سيمه ورته د سويت يونين زور نشته کومه چې ئې څۀ موده وړاندې په خپلو سياسي دسيسو مات کړے وه ـ کنه نو دوۀ ښکرور بيا په يو بل داسې ډاډه نه ورځي ـ د نائن اليون د

دغه واقعاتو نه پس پښتنه خاؤره د جنګ مېدان شو او پښتانهٔ در په در خاؤرې په سر شو ـ مرګونه ،ژوبلې،معذورتوبونه خلقو ته ورسېدل او دغه جنګ بیا د ډیورنډ نه را په دېخوا هم د لرې پښتونخوا خلقو متاثره کړل ـ

د دیر سوات باجوړ،وزیرستان اپرېشنونه هم د دغه ناوړه جنګ برخه وه چې د خلقو ژوندترې په عذاب وهٔ ـ خوږلن بابا په دغه حواله د پاکستان د حکومت د دې جنګ د جوړېدو هم خلاف وهٔ ځکه چې د طالبانو مسلح جهګړا تر پاکستانه راورسیده او دلته هم صرف پښتون اولس وزپلے شو ـ خوږلن بابا په دغه نظمونو کښې د دې ټولو خبرو ډېر بشپړ جاج اخستے د خپل وطن په پالیسو ئې هم تنقید کړے ځکه چې بیا ئې د غېر په لمسه په پښتنو زمکه راتنګه کړې وه هر پښتون بدنام شو ،پښتو بدنامه شوه د پښتنو جامه پېزار شمله او حلیه د یرې ترهې علامتونه شو ـ زنځیر زنځیر ځوکۍ ځوکۍ شو وطن ،فریاد د شعر د روح نه راووت ـ او په دې ټول صورتحال کښې د امریکې ملګرو د امریکې دپاره هم خو د پاکستان دښمنانو د امریکې د دوستۍ په شکل کښې د پاکستان خلاف سازشونه او ورانې شروع کړل او بیا په پاکستان کښې په منظم ډول د دغه ورانو او سازشونو مخه د پښتنو سیمو ته راټوله شوه ـ

دا هغه صورتحال دے چې خوږلن بابا په خپل نظم کښې په علمي او مدلل انداز بیان کړے ـ که د امریکې دباوونه او حملې دي او که عملي فوج کشي ، د پښتنو د بېوسۍ فریاد دے که د انساني وروروليۍ په نوم انسانانو ته د جنګ د پرېکون غږ ، د سازشونو او دسیسو بیان دے او که د خپلو او پردو ناکړدې ،د زورګیرو مزاحمت دے او که په چالونو ئې تنقید ،د جنګ د حل تجاویز دي او که کړنلار د دې ټولو عواملو په اړه ېې د خپل سیاسي بصیرت او پښتون عزم تر څنګ خپله غېر جانبدارانه پښتنه بیانیه هم بیان کړې ـ الغرض که په پښتوادب کښې د نائن الیون د اثراتو په اړه نور هېڅ هم نهٔ وي د خوږلن بابا نظمونه د دغه ټولې عالمي او علاقائي منظر نامې او اثراتو د یو مکمل او جامع تاریخي دستاوېز په حېث پوره دي ـ

دغه ټوله سیاسي اوعالمي منظر نامه د خوږلن بابا په نظمونو کښې په صعودي ترتیب سره احاطه کوو ړومبے هغه عمل وهٔ چې پکښې امریکې په دې سیمه د حملې کولو تیارې کوله بېړۍ ئې خلیج ته راروانې کړې او د حملې ګوابنونه ئې کول ـ دغه ذکر ئې په یو

نظم چې " په افغانستان د حملې تیاري " عنوان لري وګورئ:

مړ به مې نهٔ کړي زما سره وینه به ښه توده کړي
د زړونو ځوښ به زلزلې په امریکه کښې وکړي
ګینګړي د باز په پښو کښې نشته د پامیر په څوکه
غلامي ولې د مشکار د کوړکوړکې وکړي
ستا د ببړو په کوللي باندې جهان پوهه دے
خلیج له راغلې چې دې تیلو ته میرکې وکړي
خراړه نهٔ یم چې د ډز سره به لاړه شمه
اول ګوزار دې هډو دا ځوے دملکې وکړي[۱۳]

د امریکې د ببړو راروانیدل او دلته د بیوسه خلقو د جنګ د تیارۍ نقشه په داسې انداز کښې بیانوي چې د پښتون تهذیبي اثارو او پښتنې ننګ برملا اظهار پکښې پروت دے -

د زورور هلته په بحر کښې ببړئ راتاؤ شوه
دلته د زنګ توري د موټې نه چېړئ راتاؤ شوه
په دې ګاونډ کښې راته جنګ دے تماشه غونډې ده

عجیبه جنګ دے میزائیل او تبرګے جنګېږي
بره د جاز نه د یو بم د بل غرګے جنګېږي
د یو زېلې قام نه نن ټوله نړئ راتاؤ شوه
بوې د بارودو لکه بنګ دے څهٔ نشه غونډې ده

یو دروغژن علمبردار د انساني حقونو
منکر شهٔ سترګې پټوي په افغاني حقونو
د وخت چنګېز وخوت چې ستنه د ګهړۍ راتاؤ شوه
لکه خونخوار غونډې بدرنګ دے څهٔ نشه غونډې ده[۱۴]

په دغه جنګ کښې د پاکستان د حکومت له خوي د دغه جنګ حصه جوړېدل او امریکائي جهازونو له اډې او فضائي لارې ورکول هم خوړلن بابا بد ګڼلي او دغه عمل ئې په یو

علامتي انداز کښې بیان کړے چې:

غل مې د کور په چنه بر ځي ورته نۀ غاپي اوس
زمونږ خړو له چا په کچو کښې ډوډۍ لړلې[۱۵]

خوشحال بابا د امریکې د دې زورګیرۍ په حقله تجزیه پېش کوي چې په نمر خاتۀ باندې ورته د سویت یونین غوندې طاقت نشته ځکه چې هغه ئې ځۀ موده وړاندې مات کړے وۀ ګنې نن به امریکې داسې په دنیا خپله زورګیري او زور ډېري نۀ ښائیله ـ امریکه خلیج ته هم د تیلو دلالچ په سر راغلې ده ـ خو خوشحال بابا دا هم وائي چې د حق او باطل جنګ به تر ابده روان وي دا ښېله ده چې د پښتنو سره وسائل نشته دوې په جنګ کښې برے شاید ونه مومي خو شکست هم نۀ مني ځکه چې شکست هغه څوک مني چې نور جنګ نۀ کوي او زمونږ د حق مبارزه به تر ابده روانه وي ـ

خود به یوائې په نړۍ کښې بدمعاشي کوي نن
په نمر خاته چې ورته یونین د سوېت نشته
تیلې د تیلو سوداګر دے ځي په تیلو پسې
ګنې نور کور بې په عراق او یا په کوېت نشته
هغه وۀ بل هلاکو خان د دیارلسمې صدۍ
زمونږ د وخت د هلاکو په شونډو برېت نشته
زمونږ جګړه تر ابده د باطل سره ده
شکست هغه مني چې جنګ ته ئې نور نېت نشته[۱۶]

خوشحال بابا د خپل ادراک په بنیاد دا هم وائي چې بلها دور اندېشه او د قام او وطن خواخوږي خلقو دبېدارۍ چغې وهې خو واکدار ځان نانګاره کړے او د قام د فریاد هېڅ غم نۀ کوي ـ " دا ځۀ کېږي " نومې نظم کښې د ختیځ او لوېدیځ ژوند هم تجزیه کوي چې په نمر خاته فضا ګانې سرې لمبې پوکي او په مغرب کښې خلقو د ژوند په مزو کښې اخته دي ـ

دوخت هټلر په بام د سپینې حوېلۍ ولاړ دے
زما د سرو وینو د دارو خوند په سور اخلي
سمسور سپرلي خوشحاله خلقو د لوېدیځو سیمو
د نمر خاتۀ نه لمبې خپرژي فضا اور اخلي

بلبـــل بـــاغوان تـــه د خطـــرې بګـــل وهـــي پـــه رمـــوز
د بـــاغ بـــاغوان د بلبـــل شـــور هســـې پـــه شـــور اخلـــي[۱۷]

د بمبارو په دوران کښې د امريکائي جهازونو قتل عام چې ګناهګار او بېګنا ټول په يو ځاے وچ لامده کوي او بل طرف ته ځان د انساني خېر خواهۍ علمبردار ګڼي او د جهازونو نه خوراکي شيان هم راغورځوي ـ خوړلن بابا دغي عمل ته په طنزيه او حقارت کتلي وائي:

وارړه زورور مـــې بـــې قصـــوره پـــه ډالـــۍ ولـــي
ښار مي پـه ګولۍ ولي او شـارې پـه ډالـۍ ولي
زوړ اشـــنا پـــرون پـــه بدرګـــه دلتـــه راغلـــے وۀ
نـن پـه ميزائيلـو د پـامير د غـره ځـولۍ ولـي[۱۸]

د جنګ په مهال چې په افغانه خاؤره څۀ تېر شو د خوړلن بابا په نظمونو کښې د هغې تفصيلي روداد موجود دے ـ خو دغه جنګ چې د پولې نه راپورې وت نو بيا ئې يو بل خطرناک صورتحال پېدا کړو د امريکې مطلوب خلقو د هغوې په ګمان د پاکستان د پښتنو په سيمو کښې ځاے په ځاے پټ شو چې د امريکې په وينا د پاکستان حکومت د هغوې خلاف دلته سرچ اپرېشنې شوروع کړې او د دې سيمې د خلقو ژوند د يو لوې عذاب سره مخ شو ـ په يو نظم په ما بد لګي ملګرو کښې دغه ياس او حسرت په شدت سره محوسبږي کله چې د جندول د تورې غونډۍ نه په باجوړ د توپو ډزې کېږي او په دير او سوات کښې خلقو بېکاره کېږي نو خوړلن بابا څومره د بيوسۍ او قلبي کرب سره مخ دے په دوه نظمونو کښې ئې د دغه واقعاتو يادونه کړې

ګـــوزار پـــه بـــاجوړ چـــې د جنـــدول د ســـيمې کېـــږي
کـــه هـــر څنګـــه حـــالات وي پـــه مـــا بـــد لګـــي ملګـــرو
چـــې ګټـــي مـــې د غرونـــو د زلمـــو پـــه وينـــو ســـرې شـــي
که دير وي او که سوات وي پـه مـا بد لګـي ملګرو[۱۹]

خوړلن بابا په خپلو نظمونو کښې د انسانانو په نوم غږ کړے چې د انسانيت په خاطر د زورور لاس ونيسئ او بېګنا انسانيت د خپلو سياسي او مالي منفعتونو په سوب د مرګ نه بچ کړئ خو چې څۀ لاره وله ئې نۀ ده موندلې نو د خپل فقر په زور ئې خپل قلم ته وئيلي چې د باطل په ميزائيل باندې به تۀ ښخ ګوزار کوې خپل قلم ته نظم کښې ئې دوۀ درې

شعرونو کښې انفرادي طور د دې صورتحال پله اشاره کړې ده لکه چې وائي:

زمـا د درګـې د درمـې قلمـه ريـچ پـه ريـچ شـې
کـه دباطـل پـه ميزائيـل دې ښـخ ګـوزار ونـۀ کـړو
جنـګ د تـودې وينـې د ډک ځيګـر پـه زور ګټـل شـي
د کمپيــوټر نښځکــو ځکــه رســا وار ونــۀ کــړو
شــلېدلي ښــې دي دا ډبوســې نغــارې د امــن
لېوانـو مـات کـړم چـا تپـوس مـې د پرهـار ونـۀ کـړو
تـا چـې سـينه زمـا د ظلـم پـه خـدنګ غوسـه کـړه
ما دومره هم فرق بيا ستا او د خونخوار ونۀ کړو [۲۰]

خوږلن بابا په دغه اوان کښې هم پښتنو ته د سياسي بېدارۍ غږ کوي او په دې سيمه راغلي حالات د ګرېټ ګېم د شوروي اتحاد د جګړې دوېم جنم ګڼي او د پاکستان د پنجابي استعمار نه ډېر په معصومانه انداز کښې د خپل خاوړې نه د بې دخله کولو او د ژوند د اوروسکور کولو په حقله پوښتنې کوي ۔

ســاده بــاده پښــتونه چــې تــر څــو بــه دې کېباســي
تــل خپلــې پــه خوړونــو پــه تــا وچــې پــورې باســي
قــانون د ځنګلونــو بــه تــر څــو ســتا مقــدر وي
تــر څــو بــه بــې قصــوره تــا پــه زمکــه ننباســي
پــه څــۀ نــوي صــدۍ ده دا پــه څــۀ دو هــزار اټ (۲۰۰۸) دے
زړې لــوبې نــن کېــږي د څوراســي (۸۴) او پچاســي (۸۵)
يــو لفــظ تــور بلبــل تــه د هغــه پــه ژبــه وايــم
دا ټول وطن چې ستا شي نو مونږ کوم طرف ته " جا سي" [۲۱]

خوږلن بابا د دې جنګ په حقله دا هم موقف لري چې د جنګ د پاره دواړه مد مقابل خلقو د بهر خلقو دي خو د جنګ مېدان ئې زمونږ د خاورې نه جوړ کړے چې په نتيجه کښې ئې زمونږ د خاورې کانړي بوټي هم شهدان شو او ژوند مو په اور کښې دے او د جنګ ګټه او ببلات به د نورو خلقو وي او مونږ به په مفتو کښې جل وهلې خاوره اوجل وهلے ژوند بيامومو ۔ راقم ته په يو منظوم ليکلي خط کښې وائي کوم چې ئې د باجوړ د حملې په تاثر کښې ليکلے:

عجیبه جنګ دے ډلې دواړه د بهر راغلي
مېدان جنګ زمونږ د خاوړې اندرون شماله

زړۀ تشوومه نن خفه یم درته خط لیکمه
په باجوړ مې چا وهلے بیا شبخون شماله [۲۲]

د خوږلن بابا یو علامتي نظم " د زورور غوائي" تجزیه به د نائن الیون د ټول عالمي تناظرپه مد کښې زمونږ د دعوې پخلے هم کوي او دخوږلن بابا د کمال فن سره په کمال فکر هم دلالت کوي ـ

را پـــه قهـــر شـــو غـــوائي د زورورو
پـــه لار نـــۀ ځـي بـــره خیـــژي پـــه نختـــرو

خپـــل غوبـــاړي دے پـــه خپـــل غـــوج چـــېچلے
خـــو رادؤ ئـــي کـــړو زمـــونږ پـــه څنـــورو

د امریکه د خپل جنګي جنون او زورورتیا په نشه کښې غریب او خوار او وران افغانستان ته په قهر شوه د ډېرو خلقو دا خیال او تجزیه ده چې دا امریکې د جنګ د پاره جواز کتلو او د نائن الیون حملې هم د یقین تر حده یهودیانو کړې وې خو امریکې د خپل غوجل د غوباړي په ځاے د دې سیمې په څنورو طالبانو راووهلې ـ

لا پـــه ځـــان بانـــدې ګمـــان د ازمـــري کـــړي
ځـــان باچـــا ګڼـــي د ټولـــو ځنـــاورو

سخي کتې ئې ټول د مخې نه څنګ کېږي
ترهېـــدلي دي د غټـــو غټـــو ښـــکرو

امریکه د خپل طاقت په نشه کښې ځان سپر پاور ګڼي واړه ملکونه ئې مخې له نۀ ورځي د جنګي جنون په نشه کښې ترې ملکونه څنډه کوي

بـــې پېزوانـــه دے یکدلـــه راروان دے
وهـــې ډېچـــه پـــه زړو ورانـــو کنـــډرو

تــول ســپي غــاپي ،خــرۀ هنېــږي بــده ورځ ده
څګـــــې څګـــــې پکښـــــې اورم د ملګـــــرو

د حملې تیارې ئې وکړه هېڅوک ئې د منع کولو نشته بس په قانونو ښپې ږدي د چا قابو او کنټرول پرې نشته او په يو دسې وطن افغانستان حمله کوي چې هغه د زمانو نه وران ويجاړ دے د هغوې سره د دوې د مزاحمت او جنګ د پاره هېڅ اسلحه نشته ،په دې وجه نه څۀ ويره ترهه محسوسوي او نۀ ئې د چا نه سترګه سوزي ـ حالانکه ډېرو کلکو او سماجي تنظيمونو د امريکې د دې عمل خلاف په ټوله دنيا کښې احتجاجونه وکړل او دغې هېڅ ځا ے ونۀ نيوو ځينو ملکونو ورته هم په ډېره ويره او نرمه څګې يعنې د جنګ نۀ کولو ووئيل خو قلارېږي نۀ ـ

فــولادي ښــکر ئــې د ســر نــه دي تــاؤ شــوي
نـــۀ مـــاتېږي پـــه ډانګونـــو پـــه کمـــرو

امريکه د دومره اسلحې او جديد سازوسامان سره راغلې ده چې د افغانستان خلقو ته دهغوې سره جنګ ناممکنه دے په داسې صورتحال کښې خو داسې ده لکه فولاد چې په ډانګې وهې:

په اډې د سرېتوب کښې تلے نۀ دے
ګنې خلاصه وه خبره په خبره

اوس چې دې شعر ته بنده وګوري نو د خوږلن بابا د دوراندېشۍ ته ګوته په خلۀ شي چې په ۲۰۰۱ کښې چې کوم جنګ کېږي د دې حل په شل کاله پس د خبرو اترو او مذاکراتو په سوب راووځي او بلکل د دې نظم د ليکلو نه اتلس شل کاله پس وشوه چې امريکه د هغه طالبانو سره خبرو اترو ته کېښناسته او ځان ئې په حيا کښې د افغانستان نه د ويستلو کوشش وکړو که دا مذاکرات ناکام هم شي نو کال له بل کال له پس به وي خو د خبرې حل به هم د خبرو اترو په لاره راووځي ـ دلته د سرېتوب اډې هغه عمل دے چې يوعالمګير حقيقت دے ـ د پرامنه او باشعوره انسانانو ترمېنځ مسئلې هم راځي خو د هغې پرامنه حل لارې هم وي ـ اوس چې شل کاله پس مسئله په خبرو اترو حل کېدے شي نو شل کاله مخکښې هم په خبرو اترو ممکنه وه بيا دا دومره کلک وژل ـ زخميان ،ظلمونه دې ته څۀ حاجت وو ؟ اصل کښې د سرېتوب په اډې کښې د نۀ تللو خبره هغه طنز او خندا ده چې د

دې داغ د خپلې لمن نه نۀ شي وينځلے او دا شکست ئې د ضمير په مخ هغه ځپېړه ده چې خوب ترې حرامېږي ـ په شرط د دې که ضمير ئې وي۔

هســـې ښـــکر ئـــې خارښـــتېږي ونـــې نشـــته
منګـــي مـــات دي ګـــودر ډک دے د کـــودرو[۲۳]

او دلته خوږلن بابا هم دغه غم ژړلے چې بس د خپل جنګي وار سړولو په سر به د خوارانو مال اسباب چڼ وڼ شي او مسئله خو به هم هغسې په خبرو حل کېږي ـ

غرض دا چې خوږلن بابا يو بېدار مغزه شخصيت وۀ بېدار سماعتونه او د اظهار توان او ذريعه بې لرله ـ هغه چې په خپل علاقه، خپل وطن او په دې نړيوال کلي کښې کوم سياسي چالبازۍ مکرونه او منافقه ډپلوميسي ليدلې، کتلې او محسوسه کړې ده هغه ئې کله په سنجيده او کله په طنزيه پېرايه کښې بيان کړي۔ د دغه عالمي سياسي منظر نامې په تاثر کښې ئې د خپل اولس او خپلې خاؤري د بربادۍ غم يوائې ژړلے نۀ دے بلکې قام ته ئې د دغې سياسي هتهکنډو او سياسي چالونو په حواله د بېدارۍ غږ هم کړے او د دغه ناوړه اقداماتو خلاف ئې د مزاحمت او بغاوت چغه هم وهلې ـ او په سياسي حواله چې ډېرې د تعذير، قانون او تحفظ په وجه د نۀ کولو وې هغه ئې هم په علامتي ژبه کښې د غوائي په ښکر ودرولي۔

## حوالې


1. Mazhar ul Haq,political science theory and practice,Book land Urdu Bazar Lahore ,2005,page No. 4
2. خوږلن ،احسان باچا ،لیت،دیر پښتو ادبي کاروان، ۲۰۱۰،ص ۱۹۴، ۱۹۳
3. هم دغه اثر،ص ۱۹۸، ۱۹۷
4. هم دغه اثر،ص ۱۷۱
5. دخوږلن بابا ناچاپ نظم
6. د خوږلن بابا ناچاپه نظم ،سیاسي لیډر
7. د خوږلن بابا ناچاپه نظم، د ملا او د ملک د ووټونو مقابله
8. خوږلن ،احسان باچا ،لیت ،ص ۱۹۸، ۱۹۷
9. هم دغه اثر،ص ۱۲۳، ۱۲۲
10. مہتاب منظر،ڈاکٹر،بین الاقوامی سیاست،فیکٹ پبلیکیشنزلاہور،ص ۹
11. ایضا ، ص۴
12. [1]Post- 9/11 wikkipedia. President Bush outline Iraqi threat Archived 2013-03-07 at the wayback machine ,Cincinnati, Ohio,October, 7,2002
13. هم دغه اثر،ص ۲۲، ۲۵
14. هم دغه اثر،ص ۱۴۲
15. هم دغه اثرص ۱۹۴
16. هم دغه اثر،ص ۱۵۲، ۱۵۵
17. هم دغه اثرص ۱۵۳
18. هم دغه اثر،ص ۱۴۹
19. هم دغه اثر،ص ۱۱۴
20. هم دغه اثر،ص ۱۳۲
21. هم دغه اثر،ص ۳۲
22. هم دغه اثر،ص ۱۱۱
23. هم دغه اثر،ص ۱۳۹، ۱۳۸